واحد فقیری ۲۰۱۸/۰۱/۱۱

# د ابن خلدون المقدمه

عبدالرحمن بن محمد ابن خلدون یو ستر مورخ، سیاست پوه، او د تاریخ فیلسوف وو. ابن خلدون په ۱۳۳۲ م کې په یوې اشرافي عرب کورنۍ کې په تونس کې وزیږید. د هغه کورنۍ په سیاسي چارو کې بنګېله وه، او د شمالي افریقا او اندلس په علمي حقلو کې ئې شهرت لاره.

ابن خلدون ابتدايي تحصیلات په خپل کور کې د خپل پلار سره وکړل، خو نور عالي تحصیلات یې د تونس او اندلس په نورو ښارونو کې وکړل، او د خپل وخت په ممتازو علمي موسساتو کې یې درس ووایه. د خپل ژوند او سفرونو په جریان کې، ابن خلدون ته د دې فرصت برابر سو چې د خپل وخت له نومیالیو استادانو سره وکوري، او تبادل نظر سره وکړي.

ابن خلدون په خپل ژوند کې زیات سفرونه کول، او تل ګرځنده وو. د زیاتو خلکو سره ئې پېژندل، او د مختلفو نظریاتو سره اشنا وو. هغه پراخ نظر لاره. په سیاست او ژوندانه کې تنګ نظره نه وو. د هغه فکري افقونه پراخ ول. خو البته د خپل وخت او زمان ځیني نژادپاله نظریات ئې لرل.

پراخه تاریخي مطالعه یې درلوده. د خپل وخت تاریخي او سیاسي انکشافات یې په غور مطالعه کول. د مختلفو فکري مکتبونو سره اشنا وو. او د خپل وخت د علومو په ډیرو څانګو کې منل سوی استاد او ماهر وو. البته زیاتره تاریخي مطالعه ئې تر ډیره حده د اسلام او عربو تاریخ ته محدوده وه. د هند، چین، یونان، او روم په برخه کې ئې مطالعه کمه وه. ټول تمرکز ئې د عربو او اسلام پر تاریخ باندې وو.

د ژوند ډیره برخه ئې په دربارونو او سیاستونو کې تېره سوه. له همدې امله په ځینو دربارونو کې په سیاسي دسیسو کې لتاړ سو. د سلطانانو او وزیرانو مشاور سو. له ځینو ځایونو څخه په وتلو مجبور سو، او تل ئې هڅه کوله چې یو فیلسوف شهزاده پیدا کړي.

په ۱۳۶۲ کې، ابن خلدون اروپا ته واوښت، او په ګریناډا کې یې د عربو په یوازنی مستقل ریاست کې کار پیل کړ. پدې وخت کې، ابن اخلدون د ګریناډا د حاکمانو لخوا سخت ونازول سو، خو وروسته له څه وخت څخه د سیاسي حسادتونو او رقابتونو په خاطر له سیاسي ستونزو سره مخامخ سو.

په ۱۳۸۴ کې، ابن خلدون له یوه ستر فامیلي غم سره مخامخ سو. د هغه ټوله کورنۍ په سمندر کې غرقه سوه. هغوی له تونس څخه د مصر الکزاندرې ښار ته په کښتۍ کې سفر کاوه. ابن خلدون په ۱۳۸۷ کې حج ته ولاړ، او له حج را وروسته په قاهرې کې میشت سو، او هلته ئې ژوند او تدریس کاوه. په ۱۴۰۰ کې ئې دمشق، بیت المقدس، بیت الحم، او نورو ځایونو ته یو لړ سفرونه وکړل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ابن خلدون د خپلو سفرونو په ترځ کې یو ځل بیا دمشق ته ولاړ. دا وخت دمشق د تیمورلنګ لخوا محاصره سوی وو، او پدې نادره تاریخي سفر کې ابن خلدون د تیمورلنګ سره ملاقات وکړ. او له لدې ملاقات څخه ئې جالبې خاطرې یادداشت کړې دي.

ابن خلدون شخصا یو فطري دیپلومات وو. د اشرافي کورنۍ په ادابو کې را ستر سوی وو، او زیات خلګ ئې پېژندل. شخصي ارتباطات ئې پراخ ول، او د عصر له زیاترو علمي شبکو سره ئې تړاو لاره. تل د خپل ښار په علمي حلقو کې ښکېل شخص وو. علم، سیاست، او تحقیق ئې شوق او ذوق وو.

ابن خلدون په اجتماعي علومو کې د پراخې مطالعې خاوند وو. د تاریخ د فلسفې یو منل سوی استاد وو. د تاریخ په فلسفې کې د خاص نظر او دریځ خاوند وو. د تاریخ د فلسفې په باره کې ځانګړی موقف لري. د تاریخ د فلسفې پېژندل سوی عالم ارنولډ ټوینبي د ابن خلدون په باب وایي: ابن خلدون د تاریخ د فلسفې یو ښې ساري مفسر دئ.

ابن خلدون د تاریخ د تحقیق یوه داسې لاره او طریقه په میراث پرې ښودله چې هدف ئې تاریخي حقایق له افسانو او اشتباهاتو څخه ساتل دي. د هغه تحقیقاتي میتود انتقادي او تحلیلی دئ. ابن خلدون په تحقیقاتي مسایلو کې انتقادي برخورد تشویقوي. هغه وایي چې مورخین باید د ارقامو په یادولو کې غور او احتیاط وکړي. مبالغه و نه کړي. غیر واقعي او مبالغه امیزه شمېرې درج نه کړي.  هغه لیکي چې المسعودي او نور مورخین لیکي چې حضرت موسی د اسرایلو عسکر په دښت کې راغونډ کړل، او ټول هغه د اسرایلي ځوانان ئې حساب کړل چې په عمر شل کلن ول. المسعودي کاږي چې د حضرت موسی جنګیالي ۶۰۰۰۰۰ (شپږ لکه) نفرو ته ورسېدل. ابن خلدون لیکي چې المسعودي دا واقعیت مد نظر نه نیسي چې ایا مصر او سوریې کولای سوای چې په اندازه عسکر ولري؟ ایا دا امکان لري چې په یوه محٔکه کې دونه عسکر سره راغونډ سي؟ (۱۲-۱۳).

ابن خلدون وایي چې یو مورخ باید د خپلې موضوع تاریخي او فرهنګي چوکاټ په نظر کې ونیسي (۱۱). د هغه وخت شرایط او حالات په غور وکوري. د تاریخي وقایعو په اړه د هغوی په اجتماعي او کلتوري عقایدو باندې ځان اګاه او خبر کړي. کلتوري محدودیتونو ته ئې پام وکړي. هره تاریخي پدیده او حادثه د هغې پدیدې په زماني چوکاټ کې مطالعه کړي. هغه وایي چې زماني چوکاټ د یوې سیاسي او اجتماعي پدیدې د درکولو لپاره ضروري دئ.

په بل عبارت، یو محقق او مورخ باندې خپل د عصري فرهنګي او عقیدتي ارزښتونه پر نورو تاریخي دورو باندې و نه تپي. د خپل عقیدتي چوکاټ په محدوده کې نور تاریخي مسایل تحلیل او تفسیر نه کړي. بلکې تل کوښښ وکړي چې زماني چوکاټ مد نظر و نیسي، او د هغه وخت ارزښتونه ته پام وکړي.

ابن خلدون وایي چې تاریخ یو داسې علم دئ چې د تحقیق خورا زیاتې طریقې لري. د تاریخ لیکل ډېرو اسنادو او راز راز پوهې او مهارتونو ته اړتیا لري. د تاریخ لیکل ښه تحلیلي دماغ ته ضرورت لري. هر اړخیز علم او مطالعې ته اړتیا لري. دا ټول یو مورخ له اشتباهاتو څخه په امان وي، او حقیقت ته ئې سیخ وي.

ابن خلدون وایي چې مورخ باید تاریخي اسناد دقیق ارزیابي کړي. ثقه او جعلي اسناد سره بېل کړي. اول لاس او دوهم لاس شواهد سره جلا کړي. د هغه وخت سیاست، اجتماعي جوړښت، او تشکیلات په نظر کې ونیسي. محقق باید تل احتیاط وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ارقامو او اعدادو ته د شک په سترګه وګوري. د راوي له بیوګرافي سره ځان بلد کړي. د راوي په انګېزې ځان خبر کړي. د راوي په سیاسي عقایدو باندي ځان اګاه کړي. او بالاخره شواهد او اسناد د عقل په تله کې وتلي. هر څه په پټو سترګو و نه مني.

یو محقق باید هر اړخیز او جامع علم او معلومات ولري. خپله موضوع له هري زوايي څخه مطالعه کړي. د خپلي موضوع په باب پوره غور وکړي. زماني چوکاټ ئې د نورو همعصرو حادثو سره مقایسه کړي. د هغه زمان اقتصادي او سیاسي شرایط په غور مطالعه کړي. ځکه حالات بدلېږي، ټولني بدلېږي، او ګرده جهان تغیر کوي.

ابن خلدون وايي اجتماعي او سیاسي حالات او خلک تغیر کوي. په جهان او ټولنه کې هیڅ شی پر خپل حال باندي نه پاته کېږي (۲۵). زمان بدلېږي. او هر څه تغیر کوي (۳۰). همدا وجه ده چي یو محقق باید د زمان او حالاتو بدلېدل مد نظر ونیسي. ابن خلدون راته وايي چي د حوادثو په درجولو او روایت کې باید پوره احتیاط وکړو. د مسایلو سره باید انتقادي او تحلیلي برخورد وکړو. او پخپل علمي تحقیق کې باید تل پر تحلیلي او انتقادي روش باندي ټینګار وکړو.

ابن خلدون په ۱۴۰۶ کي په ۷۴ کلنی کې په قاهره کې مړ سو.

د ابن خلدون د المقدمي اصلي موضوع:

د ابن خلدون مقدمه یوه داسي فکري هڅه ده چي غواړي د انسانانو په سیاسي او اجتماعي ژوند کې یوه عمومي قاعده کشف کړي. د انساني ټولني تکاملي بهیر تر یوه حده پوري تعین او وټاکي. د ابن خلدون میتود انتقادي او تحلیلي دئ. د تاریخ فلسفې ته یو نوی نظر دئ. ابن خلدون خپله څو ځایه په صراحت وايي چي دا یو نوی علم دئ. نوي جهانبیني ده. یوه نوې مستقله علمي څانګه ده (۳۸).

ابن خلدون وايي د دې کتاب اصلي موضوع د انساني تمدن، اجتماعي تشکیلاتو، او ټولنیز نظام د جوړېدو پروسه ده (مخ ۳۹). ابن خلدون لکه نور سیاسي او اجتماعي فیلسوفان په اول سر کې دا سوال مطرح کوي چي ولي انسانانو اجتماعي ژوند اختیار کړ؟ ولي جامعه تشکیله سوه؟ ولي انسانان سیاسي حاکمیت مني؟ ولي حکومت ضروري دئ؟ او بالاخره ولي په انارشي کې تمدن او جامعه نه سي جوړېدلای؟

ابن خلدون لکه ارسطو باور لري چي انسانان په «فطرت کې اجتماعي» دي. انسانان له جامعې او ګډ ژوند څخه بهر ژوند نه سي کولای. ځکه انسانان په یوازې سر خپل ټول ضروریات نه سي پوره کولای. ابن خلدون باور لري چي انسانان مجبوره دي چي په جامعه کې ګډ ژوند وکړي (مخ ۴۵). په اجتماعي ژوند کې خلک متقابلي همکاري ته اړتیا لري. خلک یو بل ته ضرورت لري. د ابن خلدون په ګومان هره ټولنه یو اجتماعي نظام او تشکیلاتو ته ضرورت لري، او سیاسي نظام د انساني ژوند یو مبرم ضرورت دئ.

لکه ارسطو، ابن خلدون باور لري چې پرته له ښاري او اجتماعي ژوند څخه بله چاره نه سته. ښاري ژوند د تمدن لویه برخه ده. متمدني ټولني مغلق سیاسي او اقتصادي نظامونه لري. پیچلي حقوقي او قضايي سیستم لري. پراخې اجتماعي شبکې او طبقاتي تشکیلات لري.

ابن خلدون باور لري چې په ټولو ژوندي موجوداتو کې د «تیري» او «تجاوز» فطري غریزه پرته ده. هر سیاسي او اجتماعي نظام مجبوره دئ چې د خلکو تر مینځ همدا ورانوونکې غریزه مهاره کړي. څو اجتماعي نظام قایم سي، او د بنیادمانو تر مینځ د تجاوز او زور فطري کشش راکنټرول سي. اجتماعي انډول او بلانس برقراره سي. او سیاسي ثبات قایم سي.

ابن خلدون وايي چې باثباته اجتماعي نظام د انساني ژوند لپاره ضروري دئ، ځکه انسانان له دايمي جنګ، تجاوز، او تیري څخه راګرځوي. څه چې واقعا انسانان له تجاوز او تیري څخه راګرځوي، هغه سیاسي حاکمیت او حکومت دئ. سیاسي حاکمیت د دې قانوني صلاحیت لري چې عدل او انصاف قایم کړي، او متجاوز مجازات کړي. د ابن خلدون په عقیدې د مشروع سیاسي حاکمیت اصلي معنی او مفهوم همدا دا دئ چې عدل او انصاف بر قراره سي (۴۷).

ابن خلدون باور لري چې سیاسي حاکمیت د انسانانو ذاتي او فطري خصوصیت او کوالټي ده، او د انساني ټولني د تکامل لپاره حیاتي اهمیت لري. د سیاسي علومو فیلسوفان وايي چې سیاسي حاکمیت حتی په حیواناتو کې هم سته. حیوانات هم یو سلسله مراتب لري (مخ ۴۷).

ابن خلدون وايي چې ټول انسانان قانون، مقررارتو، او یو رااېسارونکي صلاحیت ته ضرورت لري. انسانان اخلاقي، مدني، او دیني مهارکونکي قانون ته اړتیا لري. ابن خلدون وايي همدا وجه وه چې الله پاک د بنیادمانو لپاره الهي قوانین وضع کړل. ځکه بنیادمان حقوقي چوکاټ او موسساتو ته اړتیا لري. قاضي او پولیس ته اړتیا لري.

ابن خلدون کاږي چې په ټولنه کې د قانون موجودیت په خلکو کې د «تجاوز» روحیه راکنټرولوي (مخ ۹۷). جامعه باثباته کوي. او څرنګه چې په اسلام کې بینادمان پر مځکه باندي د خدای خلیفه ګڼل کیږي، نو ځکه باید په ټولنه کې مشرتوب او سیاسي حاکمیت موجود وي (مخ ۱۱۷). حکومت او سیاسي امامت موجود وي.

ابن خلدون باور لري چې انارشي انسانیت تباه کوي. تمدن او ښاري ژوند بربادوي. انارشي د انسانانو هستي تباه کوي. نو بنا د بشریت د دوام لپاره سیاسي حاکمیت او ثبات ضروري دئ. د اجتماعي ژوند دوام یوازې هله ممکن دئ چې په انساني ټولنه کې ډاډمن امنیت موجود وي، او د اجتماعي ژوند د دوام لپاره شرایط برابروي (مخ، ۱۱۹).

ابن خلدون پدې باور دئ چې پرته له سیاسي نظام او حکومت څخه بشریت سقوط کوي. تمدن محوه کیږي. او اجتماعي نظام ګډوډ کیږي. ځکه انسانان طبعا په انارشي کې ژوند نه سي کولای. انارشي له انساني فطرت سره اړخ نه لګوي (مخ ۱۵۲).

ابن خلدون وايي همدا علت دئ چې بدوي اقوام حکومت او قانون نه خوښوي. هغوی د ښاري ژوند او تمدن سره ذاتي دوښمني لري. چور او لوټ یې خوښیږي (مخ ۱۱۹).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

عصبیه:

د ابن خلدون په المقدمه کې د «عصبیه» توری کلیدي اهمیت لري. عصبیه عربي لغت دئ، او ګډ ګروپي اتحاد، ګډه همکاري، فرا –فردي ګډ احساس، او ګډ ګوندي احساس ته ویل کېږي. البته باید په سر کې ووېل سي چې د ابن خلدون د عصبیې مفهوم پراخ او سیاسي دئ، او کله ناکله د حزبي ګډ آرمان او سیاسي اجنډا د پر مختګ ورلو معنی هم لري. د ګوندي اتحاد معنی هم لري.

ابن خلدون عقیده لري چې د تمدن، حکومت، او سیاسي حاکمیت د جوړولو او تثبیتولو لپاره «عصبیه» درلودل حیاتي اهمیت لري. ابن خلدون باور لري چې د تمدن او حکومت د جوړولو په پروسه کې باید داسي اخلاقي او روحي قوه موجوده وي چې یو ګروپ، یو قوم، یوه سیاسي قوه، او یا د یوې سمې خلک دېته وهڅوي چې تر خپلو شخصي ګټو جمعي منافعو ته ترجیح ورکړي. یوازي شخصي ګټي مد نظر و نه نیسي. بلکې اجتماعي ګټو ته لومړیتوب ورکړي. په بل عبارت، د یوې سیاسي ټولني افراد فرا – فردي عمل وکړي.

ابن خلدون وایي هر هغه څوک چې قوي سیاسي عصبیه ولري، هغه ډله حکومت او سیاسي حاکمیت جوړوي. ابن خلدون لیکي هغه ډله چې عصبیه یې غښتلې وي، د ګډ احساس قوه یې قوي وي، هغه ډله حکومت جوړوي. ځکه د ګډ احساس درلودل تر فردي احساس ستر وي، او ګډ احساس خلکو ته د قرباني او ایثار توان ورکوي، ځکه ګروپي احساس او عواطف تر شخصي منافعو لوړ وي. همدا احساس د یو قوم او یا یوې حاکمې طبقې د غړو تر مینځ د اتفاق او همکارۍ ګډ شعور لا غښتلی کوي. خلک سره یو موټی کوي. متقابل اتحاد لا پیاوړی کوي. او په ټولنه کې عمومي ګډ وجدان غښتلی کوي.

ابن خلدون وایي ځیني وختونو کې سیاسي عصبیه په وینو کې وي. د ګډ پلار او نیکه په درلودلو کې وي. د سلطانانو سلسلې عموما د یوه ګډ پلار څخه راشروع کېږي (مخ ۹۸). عموما شاهي سلسلې یو موسس لري، او ټوله شاهي کورنۍ ځانونه هغه شخص ته منسوبوي. شاهزاده ګان د همدې موسس پلار زامن وي.

د ابن خلدون په سیاسي ترمینالوژي کې عصبیه راز راز معناوي لري. عصبیه کېدای سي چې مذهبي وي، او خلک د یوه مذهب پر محور متحد کړي. مذهب او دین د خلکو د اتحاد او ګروپي احساس باعث ګرځي. عصبیه کېدای سي چې پر قومي او نشنلستي محور باندي خلک راغونډ کړي. د یوې سیمې یا قوم خلک سره متحد کړي. دغه راز عصبیه کېدای سي چې سلطنتي وي، او یوه کورنۍ د یوه شخص پر محور باندي سره راغونډه کړي.

ابن خلدون کاږي چې د سترو امپراتوریو د ایجادولو لپاره باید یوه روحي او اخلاقي انګېزه موجوده وي. څو د یوې جامعې خلک ایثار، همکارۍ، ریسک اخیستلو، او ګډ کار ته وهڅوي. همدا محرکه قوه او انګېزه عصبیه ده. کله چې په یوه ملت کې قوي لمسونکې انګېزه موجوده وي، ویاړن تمدن ایجادېږي. حکومت او ثبات ایجادېږي. ځکه سیاسي عصبیه په یوه ګروپ کې د ایثار او قربانۍ یوه داسي ورحیه روزي چې تر فردي ګټو اوچته وي (مخ ۱۰۱).

ابن خلدون باور لري چې مذهب هم سیاسي عصبیې ته ضرورت لري. ځکه پر پرګنو باندي د ځینو ګډو اجتماعي کارونو د کولو لپاره ګډ احساس او ګروپي اتحاد ته ضرورت سته. مسلمانان هم ګډ ګروپي اتحاد او عصبیې ته اړتیا لري (مخ ۱۶۰). اسلام عصبیه تاییدوي (مخ ۱۶۱).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ابن خلدون وايي چې کډ احساس يا عصبيه مختلف اشکال لري. په ځينو خلکو کې همدا د اتفاق احساس خورا غښتلی وي، خو په ځينو نورو خلکو کې بيا دا ګروپي احساس دونه قوي نه وي. په هر قام کې چې کډ احساس او عصبيه قوي وي، هغه پر نورو باندي حکومت کوي (مخ ۱۵۲). ابن خلدون وايي چې سياسي قدرت په کډ سياسي اتحاد او ګروپي احساس باندي ترلاسه کېږي (مخ ۱۵۱).

ابن خلدون وايي د قدرت د نيولو په لومړي پړاوونو کې يو قوم يا حاکمه طبقه بايد داسي منلي مشران توليد کړي چې د عامو خلکو باور ترلاسه کړي. دا مشران بايد تکړه او اعتمادي کسان وي. هر سياسي حرکت د پرګنو حمايت ته اړتيا لري، او د پرګنو ملاتړ پرته له عصبيې ښخه ممکن نه دئ. ابن خلدون وايي چې هر سياسي حاکميت د سياسي اتحاد له لاري ترلاسه کېږي (۱۲۵). بنا هر سياسي اقدام ګروپي اتحاد ته ضرورت لري (۱۲۷). هر ولسي سياسي حرکت يو ګروپي اتحاد او احساس ته اړتيا لري. ستر سياسي نهضتونه عصبيې ته ضرورت لري (۱۲۶). که چيري په يوه ملت کې عصبيه موجوده وي، په هغه ملت کې به خامخا سياسي مشرتوب هم موجود وي (۱۱۴).

لنډه داچي ابن خلدون باور لري چې هر سياسي حرکت عصبيې ته ضرورت لري.

د سياست ضرورت:

ابن خلدون سياست داسي تعريفوي چې سياست هغه علم دئ چې د يوه کور او ښار اداره د وخت د اخلاقي ايجاباتو سره سم پر مخ بيايي. د ابن خلدون په ګومان د سياست اساسي هدف دا دئ چې پرګنې دېته وهڅول سي چې خپل نسل وساتي، او په عين زمان کې آباد او ازاد ژوند ولري (۳۹). ابن خلدون سياست د اجتماعي ژوند د ارتقا او تکامل لپاره اړين ګڼي. انساني ټولنه په خپل بطن کې سياسي ده، او تل سياسي مشرتوب ته ضرورت لري.

ابن خلدون اعتراف کوي چې سياسي حاکميت د نظامي قوې په زور تر لاسه کېږي. نظامي قوه د ماليات په ذريعه جوړېږي، او تمويلېږي. ماليات په زراعت، تجارت، او عمومي عمراني ترلاسه کېږي. زراعت او عمراني په عدالت تامين ېږي. عدالت په پاکو او منتقي چارواکو اجرا کېږي. د دولت د مامورنيو پاکوالی او موثريت د وزير په سياسي بصيرت پوري اړه لري، او دا ټول د يو مشر په شخصي کوښښ پوري اړه لري چې د خپل رعيت غم غوري، اقتصاد ئې ور ښه کړي. عمراني ئې ور زياته کړي. هغوی ته د تعليم او پر مختګ لا زيات فرصتونه برابر کاندي (۴۰-۴۱). ابن خلدون وايي چې سياسي ليډرشيپ هغه موسسه ده چې نظامي قوت ئې حمايت کوي. نظامي قوه پيسې او خرڅه غواړي. پيسې له رعيته د مالياتو له لاري ترلاسه کېږي. رعيت هغه بې‌شماره خدمتګاران دي چې عدالت ئې خوشحاله کوي. د ابن خلدون په سياسي فلسفه کې عدالت يو اشنا مفهوم دئ چې د دې جهان ژوند او اجتماعي نظام ته انرژي او قوت ورکوي. ابن خلدون په اخر کې وايي چې دا اته پورتنی جملې د سياسي حکمت شيره ده (۴۱).

ابن خلدون باور لري چې دا جهان يو باغ دئ، او ماليار ئې سياسي ليډرشيپ دئ. هغه وايي چې سياست د يوې جامعې عمومي جهت او پرمختګ ټاکي. هغه وايي سياسي حاکميت د يوې ټولنې لپاره يو ساتونکی ديوال دئ. يو محافظ چوکاټ دئ. يوه اداره کونکې قوه او حدود او اربع ده. د ابن خلدون په ګومان سياسي حاکميت هغه صلاحيت دئ چې اجتماعي ژوند او اخلاق سمې لاري ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

برابروي. یو سیاسي مشر ته ښکار دي چي ښه او مناسب اجتماعي اخلاق خپله پالیسي وګرځوي، او باید تل کوښښ وکړي چي جامعه هغه طرف ته سوق کړي.

ابن خلدون وايي چي حکومت هغه قوه ده چي د ښارونو او کلیو تر مینځ د متقابل تیري ګډ احساس راکنټرولوي (۹۷). ابن خلدون عقیده لري چي د صحرا خلک تل غواړي چي ښار چور او لوټ کړي. حکومت مجبوره دئ چي د صحرايي خلکو د راکنټرولو لپاره د ښاریانو حفاظت وکړي. د ابن خلدون په سیاسي فلسفه کي د ښار او کلي جدل او دیالکټیک ته زیاته توجه سوې ده. هغه وايي چي ښار تل د صحرا په واسطه محاصره وي، او یو قوي مرکزي حکومت باید تل همدا تشنج ته توجه وکړي. د صحرا د تجاوز مخه ونیسي، او د ښارونو د پراخېدو لپاره باید زمینه برابره کړي.

ابن خلدون او ښه حکومتوالي:

ابن خلدون وايي چي په حکومت کي د ښو مامورینو انتخاب عدالت دئ. د مامورینو او خلکو په ټاکولو کي انصاف مراعات ول عدالت دئ (۱۱۳). کار اهل کار ته سپارل عدالت دئ (۱۱۳). هغه پدې باره کي څو ځایه سخت ټینګار کوي.

د ابن خلدون په نظر ښه حکومتوالي په اعتدال کي ده. د خلکو سره په ښه سلوک کي ده. څکه که چیري خلک وډارول سي، هغوی بیا رشتیا نه وايي. استبداد په خلکو کي فریبکاري زیاتوي. خیانت ډیروي. او عمومي بې اعتمادي ایجادوي.

خو ابن خلدون وايي چي ښه حکومتوالي خلکو ته ډاډ ورکوي. ښه مشر خپل خلک ساتي، او د هغوی سره په احترام او نرمښت چلن کوي. د حکومت نرمښت او عدل د حکومت او رعیت تر مینځ اعتماد ډیروي، او فاصلې رالنډوي.

د ابن خلدون په نظر ښه حکومتوالي دا ده چي سیاسي مشران دخلکو په حالاتو ځان خبر کړي، او د خپلو وطنوالو په ورځني ژوند کي محسوسه علاقه وښيي (۱۵۳). د هغوی ستونزي او اندېښني واروي.

ابن خلدون وايي څرنګه چي دولت – حکومت د یوې ټولني په اقتصادي او سیاسي چارو کي مهم نقش لوبوي، نو بنا د دولت – حکومت اساسي وظیفه د جامعې سوکالي او ښه سیاسي اداره ده. ابن خلدون وايي چي د دولت – حکومت وظیفه دا ده چي د اقتصادي ودي او انکشاف لپاره مناسب او تشویق کوونکي قوانین وضع کړي. خصوصي ملکیت وساتي. تجارتي لاري امن کړي. او عمومي اقتصادي انکشاف وهڅوي.

ابن خلدون کاږي چي سیاسي لیډرشیپ یوازي د غلبې او تسلط په حالت کي ترلاسه کېږي. سیاسي غلبه په قومي – ګوندي اتحاد او عصبیې پوري اړه لري. نو بنا پر نورو خلکو باندي حکومت کول باید دننه په کور کي قومي – حزبي- او ګروپي اتحاد تر شا ولري. داسي ګروپي ګډ اتحاد چي فرا – فردي طرز تفکر ولري (۱۰۱). د ابن خلدون په سیاسي فلسفه کي لیډرشیپ باید د ګروپي او جمعي ګټو ساتونکی وي، نه د شخصي او یا فامیلي ګټو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ابن خلدون وايي ښه او محبوب مشران عموما سخي وي. مېلمه پاله وي. پر خپلو وعدو باندي وفا کوي. خدعه او فريب نه کوي. د کمزوري خيال ساتي. د غريبو خلکو سره په محبت چلن کوي. د هغوی احترام کوي. د کمزوري حق ورکوي. د خلکو پر اشتباهاتو باندي سترګي پټوي. د ګړاونو او تکليفونو پر وخت لکه هسک غرونه دنګ او متين ولاړ وي. د خپل عزت د ساتلو لپاره تر پيسو تېر وي (۱۱۲).

ابن خلدون وايي د بشر په تاريخ کي د اجتماعي ژوند د پيلېدو سره سم سياسي حاکميت ته اړتيا پيدا سوه. ځکه د بشر په فطرت کي د تيري او تجاوز غريزه پرته ده، د همدې حيواني او متجاوزي قوې د مهارولو لپاره حکومت ضروري دئ. د همدې متجاوز احساس د رااېسارولو لپاره يوې داسي قوې ته اړتيا سته چي (الف) مشروع وي، او (ب) داسي موثره قوه وي چي خلک له تجاوز څخه وساتي (۴۷). متجاوزه غريزه په ټولو ژوندي موجوداتو کي سته (۴۶).

انارشي:

ابن خلدون د انارشي سخت مخالف دئ. ابن خلدون باور لري چي انارشي د انساني فطرت او نظام مغاير حالت دئ. هغه وايي انسانان طبعا په انارشي کي ژوند نه سي کولای (۱۵۲). ځکه خو سياسي حاکميت د انسان په سرشت او فطرت کي دئ (۱۵۱).

ابن خلدون وايي بدوي خلک انارشي خوښوي، ځکه قبايل ذاتا له تمدن سره دوښمني لري. د هغوی مقررات او انسجام نه خوښوي. د بدوی خلکو غارت او لوټ خوښېږي. د هغوی فطري غوښتنه دا ده چي د نورو خلکو ملکيت خپل کړي. په بدوي جوامعو کي خلک په بې قانوني کي ژوند کوي.

ابن خلدون وايي انارشي يو ملت تباه کوي. يو تمدن محوه کوي. ځکه خو سياسي حاکميت او حکومت د انسان فطري خصوصيت دئ. نظام او حکومت د بشريت د دوام او بقا تضمين کوي (۱۱۹-۱۱۸).

بې عدالتي:

ابن خلدون وايي بې عدالتي د يوه تمدن او سياسي نظام تباهي تضمينوي. هغه ليکي د خلکو پر خصوصي ملکيت باندي تجاوز په يوه ټولنه کي د تجارت او ثروت د پيدا کولو انګېزه وژني. پداسي حالت کي عامه خلک دا ګومان کوي چي که چيري پانګه واچوي او په اقتصادي ژوند کي برخه واخلي د هغوی همدا ثروت به بالاخره د حکومت لخوا ضبط سي، او له دوی څخه به په زور واخيستل سي.

ابن خلدون وايي بې عدالتي يوازي دا نه ده چي د خلکو خصوصي ملکيت په زوره تري واخيستل سي، بلکي بېګاري، بې مزده خدمت، او نور شاقه کارونه هم بې عدالتي ده. بې مورده او بې سببه ماليات هم لويه بې عدالتي ده. ابن خلدون وايي بېګاري لويه بې عدالتي ده، ځکه کار سرمايه خلقوي. او کار او شخصي انرژي د بنيادمانو ذاتي سرمايه ده. دغه راز، له خلکو څخه د هغوی شيان په ارزانه رانيول او بيا بېرته هغه شيان پر هغوی باندي په ګرانه خرڅول ستره بې عدالتي ده (۲۴۰-۲۴۱).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ابن خلدون لیکي پر پرګنو باندي زیات مالیات حواله کول د حکومتونو د رانسکورېدو سبب ګرځي. په داسي حکومتونو کي عموما د مالیاتو راجمع کوونکي فاسد سي. مستفیان رشوت خوره سي. ابن خلدون وایي په هره اندازه چي د حکومت مصارف زیاتېږي، او په حکومت کي اسراف ډېرېږي، په هماغه اندازه مالیات جګېږي، څو بالاخره جګ مالیات د حاکم حکومت د زوال سبب ګرځي (۲۴۸-۲۴۹).

ابن خلدون وایي کله چي د یوې حاکمې طبقې عصبیه کمزوري سي، د هغې ډلي سیاسي حاکمیت ورو ورو زوال کوي. اول، پدې ډول نظامونو کي سیاسي مشران له خلکو څخه منزوي کېږي، او په وژلو پیل کوي. د حاکم همدا استبداد د حاکمې طبقي عصبیه لا کمزورې کوي. د وخت په تېرېدو سره اول په هیواد کي لیري پرتي سیمي له مرکزه جلا کېږي. په وطن کي مسلح ملیشاوي ډېرېږي. په غرنیو سیمو کي مخالفان راغونډېږي، او کرار کرار نوي خلک ورجلبېږي. او بالاخره همدا ناراضه ډلي مستقل ریاست تشکیل وي (۲۴۷).

په سیاست کي د قلم او توري ارزښت:

ابن خلدون لیکي «توره او قلم» د یو سیاستوال لپاره ښه وسایل دي، او باید کار تري واخلي. خو د یو دولت د تاسیس په لومړي پړاوونو کي د قلم په پرتله د توري اهمیت زیات وي. کله چي یو ځوان رژیم ځان تثبیتوي، او خپله سلطه خوروي، هله قلم باید د توري په خدمت کي وي. ابن خلدون وایي د یوې سلسلې په اخرو وختونو کي هم توري ته زیاته اړتیا وي، ځکه هله لومړیتوب د حاکم نظام ساتل وي.

مګر د یوه سیاسي نظام په پخوالي کي قلم او فرهنګ ته زیاته توجه باید وسي. ځکه پدې پړاو کي سیاسي نظام پوخ، مصون، او مطمین وي. د ابن خلدون په ګومان پدې وخت کي باید مالیات منظم راغونډ سي، او تعلیم او تربیې ته زیاته پاملرنه وسي. تعلیم عام سي او په پرګنو کي خور سي. اقتصاد غښتلی سي. او پدې زمانه کي قلم زیات موثر وي (۲۱۳).

په قوم کي نامیدي:

ابن خلدون کاږي کله چي یو قوم اسیر او غلام سي، په هغه قام کي ناامیدي ډېره سي. کله چي په یو قوم کي امید ختم سي، په هغه قوم کي بې اتفاقي زیاته سي. ګروپي او جمعي احساس په کي کمزوری سي. عصبیه یې ضعیفه سي. د ماتو ملتونو جمعي احساس او اتحاد د پوځي شکست په خاطر کمزوری سوی وي. کله چي په یوه قوم کي عصبیه کمزوري سي، د هغه قوم اقتصاد، تمدن، او تاریخ حایشه سي (۱۱۹).

تمدن او بدویت:

ابن خلدون باور لري چي د ښار او بدویت تر مینځ به تل جدل روان وي. هغه وایي د ښار او کلي تر مینځ تل یو ډول تشنج موجود وي. هغه وایي چي ښاري او کلیوالي ډلي د انساني تکامل طبیعي پرمختللي ډلي دي. هغه وایي چي ښاري او کلیوالي ژوند هر یو ځانته جلا جلا اجتماعي نظامونه لري.

ابن خلدون وایي چي بدوي خلک دا نه سي زغملای چي ښاري خلک ارام ژوند ولري، او په عین وخت کي دوی په صحراوو کي له هر څه څخه محروم وي. مدام په تکلیفونو کي ژوند وکړي. هغه باور لري چي د تاریخ په مختلفو پړاوونو کي بدوي خلک پر ښارونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باندي بالاخره هجوم ور وړي، او ښارونه فتح کوي. ځکه د بدوي خلکو جنګي روحيه قوي وي. د ځان په ساتلو کي يوازي پر ځان باندي تکيه کوي، ځکه په صحرا کي دوی تل يوازي وي، او مجبوره دي چي پر خپل ځان باندي اتکا وکړي، او د ځان دفاع خپله وکړي.

خو د ښار خلک پر حکومت او پوليس باندي تکيه کوي. د ښاري خلکو جنګي روحيه کمزوري وي. په ناز او سوکالي کي ژوند کوي. ابن خلدون وايي د صحرا خلک باور لري چي د ښار خلک «بې همته» دي. بدوي خلک باور لري چي ښاريان درواغجن او بې ننګه دي. د ځان د ساتلو توان او جرات نه لري. همدا وجه ده چي په تاريخ کي بار بار کليوالي خلکو ښارونه تسخير کړي دي، او نوي حکومتونه يې ايجاد کړي دي. د ښاري ژوند په وجه بيا همدا صحرايي خلک د وخت په تېرېدو سره ښاري سوي دي، او بيا يوه بله صحرايي ډله له صحراوو څخه راوځي، او زړه حاکمه ډله پسي اخلي. او سياسي قدرت تري نيسي. د ابن خلدون په باور په تاريخ کي همدا دايروي سايکل مدام دوام لري. تل نوي اقوام زاړه پسي اخلي. تل نوي سياسي قوي زړې ماتوي.

ابن خلدون وايي چي په بدوي خلکو کي د ننګ او ناموس خبره خورا کرمه وي. خلک يو بل پېژني، او د شرم او پيغور مسله ډېره جدي وي. په بدوي خلکو کي ساده ګي او پاکي زياته وي. وعدې ئې پخې وي. خلک طبيعت ته نژدې وي. او د ادميت او طبيعت تر مينځ واټن زيات نه وي. د هغوی اقتصاد پر مځکه او حيواناتو باندي راڅرخي. او اقتصادي منابع ئې محدودې وي.

ابن خلدون وايي د خلکو تر مينځ متفاوت شرايط د هغوی د متفاوتو عايداتو د لاسته راوړلو نتيجه ده (۹۱). د کليوالي سيمو اقتصاد پر زراعت او مالداري باندي تکيه لري. د ښارونو اقتصاد پر تجارت او کاروبار باندي تکيه لري. ابن خلدون وايي چي د ښارونو او کليوالي سيمو په کاليو، خواړو، دودونو، او فرهنګ کي توپير وي.

کليوالي ژوند سخت او ساده وي (۹۲). توليدات کم وي، او د بخر نه مير ژوند وي. کليوالي خلک د ځان او بچيانو د مړولو له مشکل سره مخامخ وي. بدوي ژوند د انساني ټولني طبيعي حالت وي. خلک اضافه شيان نه لري. اضافه پانګه نه لري. کليوالي ژوند د بنيادمانو په تکامل کي لومړی پړاو دئ. او لدې را وروسته، ښاري ژوند راځي (۹۳). ابن خلدون وايي چي ښاري خلک عموما پخپلو ورځنيو محاورو کي بد کلمات استعمالوي، هغوی دا کار حتی د ښځو په حضور کي هم کوي (۹۴).

ابن خلدون وايي کليوالي خلک د ځان د دفاع لپاره ديوال او کلا نه لري. بلکي د ځان د ساتلو لپاره يوازي پر خپل ځان باندي تکيه کوي. کليوالي خلک با همته وي. کليوالي خلک د شپې په تېارو کي د سپو غپا ته پام کوي. خو ښاري خلک پر حکومت، قانون، او پوليسو باندي تکيه کوي. د ښاري خلکو رزمي روحيه کمزکه وي (۹۵). په کليوالي سيمو کي د خلکو د کنټرول لپاره يوازني واک او صلاحيت د خان او ملک وي (۹۷).

ابن خلدون وايي په کليوالي سيمو کي د خلکو عصبيه عموما پر وينه او پلرني رشته باندي راڅرخي. خلک د يوه پلار بچيان وي، او اکثره په يوې قبيلې پوري تعلق لري. په کليوالي سيمو کي د پلار او نيکه شجره ډېره مهمه وي (۹۸).

ابن خلدون باور لري چي صلح دوسته اقوام سياسي رياست نه سي کولای، ځکه سياسي حاکميت نظامي قوې ته اړتيا لري (۱۱۰).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ابن خلدون عقیده لري چې بدوي ژوند او تمدن دوه مخالف قطبونه دي. بدوي خلک له تمدن سره ذاتي دوښمني لري (۱۱۸). بدوي خلک فطرتا لوټ او تالان کوي. بدوي خلک قانون نه مني. انارشي ئې خوښه وي (۱۱۹). ابن خلدون وايي که چیری بدوي ژوند او نظام پر ښاري ژوند او نظام باندي غلبه وکړي، هغه ښارونه او تمدنونه سمدستي سقوط کوي (۱۱۸). ابن خلدون وايي چې بدوي خلک په انارشي کې ژوند کول ازادي تلقي کوي. هغوی هیڅ‌چا ته اطاعت نه کول ازادي ګڼي.

تمدن، ښار، عمران

ابن خلدون وايي چې په یوه ښار کې د سیاسي حاکمیت تر تثبیتېدو راوروسته ښاري ژوند، نظام، او تمدن جوړیږي. د ښارونو او تمدنونو جوړول وخت، پیسې، فرهنګ، او تجمل ته اړتیا لري. د ښارونو د پراخولو لپاره د نفوس ډېروالي ته ضرورت سته، څو ښارونه اباد سي. د سترو ښارونو او تمدنونو جوړول ډېر وخت، سیاسي ثبات، او پلان ته ضرورت لري (۲۶۳). د ښارونو او تمدنونو جوړول د چاپیریال او محیطي شرایطو مطالعې ته هم ضرورت لري. ابن خلدون باور لري چې ستر سیاسي نظامونه د سترو ښارونو ایجادولو ته ضرورت لري. ځکه په ښارونه کې د خلکو تمرکز زیاتیږي، تمدن ایجادیږي، او فرهنګ او هنر خلق کېږي. ستر حکومتونه ستر څلي او ودانۍ جوړوي. ځکه یوازي ستر طاقتونه کولای سي چې زیات خلک استخدام کاندي، د ډېرو خلکو همکاري ترلاسه کړي، او زیاتي پیسې ولګوي (۲۶۵). ښارونه د کلتور د روزلو مرکزونه وي. د نوي تمدن مرکز وي (۲۸۲).

ابن خلدون وايي چې ښارونه باید له زهرجنو محیطي امراضو څخه وساتل سي (۲۶۷). د ښارونو او تمدنونو په جوړولو کې هوا او اوبه زیات اهمیت لري. د خلکو او ښارونو نظافت او پاکي زیات رول لري. د ښارونو په جوړولو کې باید محیطي شرایطو ته پام وسي. ښارونه باید پاکي جاري اوبه ولري. د اوبو د ذخیره کولو سیستم ولري. حامونه او غسل خاني ولري.

ابن خلدون وايي چې د یوه حکومت لپاره ښارونه د مالیاتو د راغونډولو ستر مرکزونه وي. ابن خلدون وايي چې په ښاري ژوند او تمدن کې د خصوصي ملکیت ساتل او حفاظت سخت رول لري. د خلکو خصوصي ملکیت باید جدا وساتل سي. ابن خلدون وايي د شتمنو خلکو ځاني مصونیت زیات اهمیت لري. د ښار شتمنه طبقه باید حفاظت سي، او داسي مقامونه ورکړه سي چې د هغوی په درد وخوري (۲۸۲).

ابن خلدون وايي عموما په ښارونو کې متمدن او شتمن خلک ژوند کوي. په ښارونو کې د ثروتمني طبقې موجودیت کاروبار او مالیات راجلبوي. ابن خلدون وايي چې د ټولو بدوي ټولنو نهایي هدف او آرمان ښاري کېدل وي. ښاري ژوند تجمل، اقتصادي رونق، او د ارام ژوند شرایط برابروي. ښه غذاوي، شیک کالي، فیشني شیان،عیش او تجمل ټول په ښارونو کې وي (۲۸۵).

ابن خلدون عقیده لري چې د ښاري ژوند امن، تجمل، او هوسا شرایط په خلکو کې تمبلي او بې همتي تقویه کوي. د وخت په تېرېدو سره ښاریان کرار کرار فاسد سي، او اخلاقي معیاورنه ئې راټېټ سي.

ابن خلدون وايي کله چې حکومتونه پاخه وي، باثباته وي، هله په هیواد کې اقتصادي رونق وي، وده وي. خلک په عیش او نوش کې ژوند کوي. مالیات ډېروي. حکومت کولای سي چې خپل مصارف پوره کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ابن خلدون وايي د تمدن، تجارت، او عمومي ثروت د جګولو لپاره حکومت ته ګکار ده چي په عامه خلګو او سکتور کي تولید او اقتصادي فعالیت زیات کاندي (۲۴۰). هغه عقیده لري چي کله خلګ تجارت او کاروبار و نه کړي، تمدن او ښاري ژوند سقوط کوي. هر څه خوسا کېږي (۲۳۸-۲۳۹).

د ابن خلدون اقتصادي نظریات:

ابن خلدون وايي هر انسان غذا ته ضرورت لري. او هر انسان ځینو شیانو ته اړتیا لري. د انساني ټولني اقتصادي کاروبار پر ګټه او فایدې باندي ولاړ دئ. فایده د بنیادمانو د ژوند او معاش لپاره ضروري ده. فایده د سرمایې په راغونډولو کي حیاتي اهمیت لري.

ابن خلدون وايي ګټه هغه ارزښت دئ چي د بنیادم په کار او انرژي باندي ایجاد سوی وي. ابن خلدون وايي چي کار ارزښت تولیدوي (۲۹۸). د ارزښت د خلقولو اصلي عامل انسان دئ (۳۰۳). زحمت فایده خلقوي. انسان ارزښت ایجادوي. انسان تمدن، ښار، او اقتصاد جوړوي. ابن خلدون وايي کله چي په ټولنه، تمدن، او ښار کي خلګ لږ سي، تمدن پیکه کېږي، او بالاخره سقوط کوي. کله چي بنیادمان له ښارونو څخه کوچ وکړي، هغه ښارونه سوکه سوکه مري، او په خرابه بدلېږي (۲۹۹).

ابن خلدون په اقتصاد او سیاست کي د عامه خلګو د خصوصي ملکیت د ساتلو جدي پلوي کوي. هغه وايي چي د حکومت یوه اساسي وظیفه دا ده چي د خلګو خصوصي ملکیت وساتي. د ثروتمن کسانو لپاره په ښار او جامعه کي د امن او ډاډ فضا برابره کاندي. د خلګو لپاره د پانګوني فرصت برابر کړي (۲۳۸). ابن خلدون بل ځای اصرار کوي چي سرمایه داران باید وساتل سي (۲۸۱).

ابن خلدون باور لري چي سیاسي مشران وظیفه لري چي د خلګو اقتصادي وضع ښه کاندي (۴۱). بل ځای کاږي چي د سیاسي قدرت لپاره اقتصادي طاقت ضروري دئ (۲۴۰).

ابن خلدون بل ځای وايي چي په حکومت کي عالي رتبه سیاسي پوستونه د لوړ پوړ چارواکو د شخصي ثروت او ملکیت له ډېرېدو سره زیاته مرسته وکوي. کله چي یوه ډله سیاسي حاکمیت ترلاسه کړي، خلګ د هغوی خدمت کوي. خلګ د هغوی مصارف تهیه کوي. عالي رتبه سیاسي پوستونه د ثروت د ذخیره کېدو سبب ګرځي. ابن خلدون باور لري چي هر څونه چي سیاسي مقام ستر او بانفوذه وي، په هماغه اندازه ئې اقتصادي ساحه پراخه وي، او د ثروت د راغونډولو امکانات ېې زیات وي (۳۰۴).

ابن خلدون تجارت داسي تعریفوي کاروبار او بزنس هغه اقتصادي کوښښ ته وايي چي ګټه ترلاسه سي، او سرمایه زیاته سي. مانا شیان ارزانه رانیول، او په ګران قیمت خرڅول دي. د دغه تجارتي فعالیت له لاري راغونډ سوي مبلغ ته ګټه وايي (۳۱۰).

ابن خلدون یو ځای کاږي یوه ورځ یوه باتجربه تاجر یوه ځوان ته چي غوښتل ئې په اینده کي تجارت وکړي د بزنس په باب داسي وویل: زه به تا ته تجارت په دوو ټکو کي خلاصه کړم. ارزانه سودا وکړه، او ګرانه ئې خرڅه کړه. همدا د تجارت اصلي مفهوم دئ. او همدا د خبري شیره ده (۳۱۰).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سیاسي اسلام او ابن خلدون:

ابن خلدون لیکي چي اسلام دیکتاتوري، بې عدالتي، او استبداد نه خوښوي (۱۵۵). هغه بل ځاي وایي چي اسلام عدالت او انصاف ترویجوي، او له مسلمانانو څخه غواړي چي د اسلام دفاع وکړي (۱۵۷). ابن خلدون وایي چي د اسلام په صدر کي خلیفه ګان هم دیني او هم دنیوي سیاسي مشران ول. ځکه د حضرت محمد مقام او سیاسي میراث همدا ایجابول. ابن خلدون وایي چي اسلام هیڅکله خلک په انارشي کي نه پرېږدي. د ابن خلدون په قول د اسلام په صدر کي امت تل یو امام لاره (۱۵۷).

ابن خلدون وایي څرنګه چي اسلامي اجماع پدې باور ده چي انساني ټولنه تل امامت او یا سیاسي لیدرشیپ ته اړتیا لري، نو بنا دا د ټولو بالغو او عاقلو مسلمانانو وظیفه ده چي د اسلامي ټولني د مشرتوب په انتخاباتو کي پوره برخه واخلي. ابن خلدون لیکي چي دا د ګردو مسلمانانو مذهبي وظیفه ده چي د قران او سنت سره سم د وخت د سیاسي امامت اطاعت وکړي. ځکه قران مجید امر کوي چي د خدای، رسول، او خپلو امرانو اطاعت وکړئ (۶۲).

ابن خلدون وایي چي په اسلام کي د سیاسي مشرتوب او امامت شرایط څلور دي. په بل عبارت، هر څوک چي د مسلمانانو مشرتوب او امامت غواړي باید دا څلور ځانګني ورتیاوي ولري. اول، باید په اسلامي احکامو کي علم ولري. دوهم، ایمانداري او صداقت ولري. مشر باید رشتین وي. دریېم، یو مشر باید باکفایته وي. لټ او بېکاره نه وي. څلرم، د یو مشر صحت باید سالم وي. فزیکي او دماغي مشکلات و نه لري. او داسي فزیکي او رواني تکلیفونه و نه لري چي د هغه پر وظیفې باندي منفي اثر واچوي (۱۵۸). ابن خلدون وایي چي په اسلام کي د خلیفه او سیاسي امام اساسي وظیفه دا ده چي د خلکو دنیا ور سمه کړي. د اقتصاد غم ئې ور وخوري (۱۵۵).

این خلدون وایي چي اسلام پر خلکو امر کوي چي د ښو ملاتړ وکړي، او له بدو سره مجادله وکړي. هر مسلمان موظف دئ چي د شرارت سره مجادله وکړي. حق ووایي. د بدو سره په ژبه، قلم، او توره مبارزه وکړي.

ابن خلدون وایي اسلام شاهي او سلطنتي نظام نه خوښوي. اسلام سیاسي استبداد او د قدرت شهوت غندي. سیاسي تقوا ترویجوي. ابن خلدون وایي په اسلام کي سیاست پوره دخیل دئ.

ابن خلدون وایي حضرت محمد مدام د خپلو یارانو سره پر عمومي او خصوصي مسایلو باندي سلا مشوره کوله. ابن خلدون کاږي حضرت محمد مدام د ابوبکر سره سلا مشوره کوله، او همدا سبب وو چي ځینو اعرابو ابوبکر د حضرت محمد وزیر باله (۱۹۱). ابن خلدون وایي څرنګه چي په اسلام کي د سیاسي لیډرشیپ مسله ډېره مهمه ده، نو بنا د حضرت محمد تر وفات وروسته د هغه یارانو ابوبکر په ګډه اجماع خپل امام او سیاسي مشر انتخاب کړ (۱۵۶).

ابن خلدون لیکي په اسلام کي بیعت د سیاسي وفاداری یو قرار داد دئ. دا سیاسي قرار داد د خلکو او سیاسي حاکم تر مینځ تړل کېږي. خلک د سیاسي حاکم سره تعهد کوي چي اطاعت به ئې کوي. ابن خلدون وایي چي په بیعت کي خلک لاسونه سره ورکوي، لکه په تجارتي په معاملو کي چي قول سره ورکوي. ابن خلدون وایي بیعت امر کوي چي حاکم به د خلکو ګټي ساتي، د هغوی د اقتصاد غم به خوري، او هغوی به په مقابل کي د سیاسي مشر اطاعت به کوي (۱۶۶).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ابن خلدون کاږي چي اسلام مسلمانانو ته د ظالمو حاکمانو پر  ضد د قیام کولو سپارښت کړی دی. هغه وایي ډیرو مذهبي مشرانو د ظالمو حاکمانو پر ضد انقلابونه کړي دي (۲۷).

پای

د ابن خلدون مقدمه یو داسي سیاسي، فلسفي، او علمي اثر دئ چي پېړی پېړی کېږي د اجتماعي علومو مختلف شاګردان ئې مطالعه کوي، او نوي نوي شیان پکي پیدا کوي. د ابن خلدون د مقدمې اثرات بین المللي دي، او ښایي تر اسلامي جوامعو په نورو ټولنو کي زیات لوستونکي او پلویان ولري. ابن خلدون پخپل دې ابدي اثر کي کوښښ کړی کړئ چي د انساني ټولنو د ودي، انکشاف، او تکامل قاعده کشف کړي. په انساني ټولنه کي د اجتماعي تحولاتو عوامل او سببونه پیدا کړي، او د تاریخ د آینده سیر لپاره یو مسیر او جهت ترسیم کړي. او د مستقبل لپاره د تاریخ د سیر یو احتمالي تصور رسم کړي.  ابن خلدون غواړي چي تاریخ او اجتماعي تحولات انتقادي او تحلیلي مطالعه کړي. تاریخي حوادث او حرکت د عقل په تله کي وتلي، او یو عمومي درک ترې تر لاسه کړي. د ابن خلدون علمي ابتکار دا دئ چي اکثره نظریات ئې خپل دي. په اکثرو خبرو کي خپله استاد او مرجع دئ.


Ibn Khaldun: The Muqaddimah An introduction to History. Translated by Franz Rosenthal. Edited and abridged by N. J. Dawood. Princeton University Press. 1967.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ